# "ارباب سکندر خان خلیل"

محمد اشرف غمګین

پښتنو کښې چې ارباب وې    د تـاریخ ځلنده بـاب وې
او ادیب خو لا جواب وې    د ډېر زړونو آب و تاب وې
بې مثاله دانشوره
اې شهیده سکندره
وې مئین په شهیدانو    د جمهور په پاسبانانو
د وطن په ننګیالانو    په سرخ پوش سرفروشانو
په تاریخ کښې ناموره
اې شهیده سکندره
ستا ښائسته فکرونه    ستا دوه ښکلي اثرونه
ستا ضخیم دوه کتابونه    ژوندي ستا ساتي یادونه
په مودو به بختوره
اې شهیده سکندره
پسرلے دے زمکه سره ده    د شفق خونه لمبه ده
پلوشه د نمر توده ده    یوه چغه یو نعره ده
ستا په فکر منوره
اې شهیده سکندره
د فریب چاړه ئې پس ده    دغه چغه ئې عبث ده
اخیر ګټه د اولس ده    امریکه نیایې بې وس ده
اوس خطا ده ترې ګودره
اې شهیده سکندره
خپل افکار دې اوړې دوام ته    مشالونه دي مرام ته
اخیري د زر نظام ته    څو لحظې پاتې بدنام ته
غمګین وائي سخنوره
اې شهیده سکندره

# حمزه بابا

نورین امان شمع

په قام مئین هم په انسان دے حمزه
داسې زمونږه غزلخوان دے حمزه

دے د فطرت په مناظرو کښې ډوب
د ښکلاګانو ترجمان دے حمزه

د پښتنو د قافلو سره ځي
کۀ د حجاز په لور روان دے حمزه

په شډل حُسن په شډله ځوانۍ
مئین په داسې رنګ جانان دے حمزه

په پښتني ثقافت سر ورکوي
داسې بې فکره له خپل ځان دے حمزه

هم د جمال هم د جلال دے خاوند
په بوډاوالي کښې هم ځوان دے حمزه

د بې نوا د میخانې دے ملنګ
ځکه زمونږ د زړونو خان دے حمزه

د ازمېښت وخت کښې پښتانۀ یو نۀ شو
په دغه فکر پرېشان دے حمزه

څومره رنګونه ئې قلم وشیندل
شمعې زما ځکه عنوان دے حمزه

# لا خو به یو کېږو ګني خدائے ګو چې ورکېږو

**علي اکبر ملاکنډ بټ خېله**

دا ولې ورځ تر ورځه مونږ یواځې پاتې کېږو
لا خو به یو کېږو ګني خدائے ګو چې ورکېږو

زمونږ د کلي کور او د حُجرو خوندونه ورک شو
زمونږ د ناستې پاستې د جرګو خوندونه ورک شو
زمونږ د مشرانو د شملو خوندونه ورک شو
زمونږ د روایاتو پښتنو خوندونه ورک شو
دا ځکه چې په غوښو د یو بل نۀ راضي کېږو
لا خو به یو کېږو ګني خدائے ګو چې ورکېږو

زمونږه د تهذیب په رواجونو خاورې اوړي
زمونږ د پښتنو په تاریخونو خاورې اوړي
زمونږ د احساساتو په فکرو خاورې اوړي
په لوړو حوصلو مو د وختونو خاورې اوړي
راځئ چې سره یو شو ګني مرو نۀ پاتې کېږو
لا خو به یو کېږو ګني خدائے ګو چې ورکېږو

مونږ تل به د وحشت په دې ګردونو کښې الوزو
مونږ تل به غوښې غوښې په بمونو کښې الوزو
مونږ تل به د اغیار په سازشونو کښې الوزو
مونږ تل به په پردو پردو جنګونو کښې الوزو
دا مونږ به داسې تل د بل په تېلو کښې سوزېږو
لا خو به یو کېږو ګني خدائے ګو چې ورکېږو

مونږ خو تول عمرې د تربګنو سره مخ شوي یو
مونږ خو تول عمرې د دشمنو سره مخ شوي یو
مونږ په یوه کاله کښې د فتنو سره مخ شوي یو
مونږ د لویو لویو حادثو سره مخ شوي یو
دا ځکه خو د ژوند د بې وسۍ په ویر ژړېږو
لا خو به یو کېږو ګني خدائے ګو چې ورکېږو

مونږ د خپلې خاورې د خپل حق تپوس کولے شو؟
مونږه د دې خاورې نوم په ډاګه اخستلے شو؟
مونږ د خپلو متو زور غلیم ته ورښودلے شو؟
مونږ چې ځان له ځان له یو نو دا جهان ګټلے شو؟
مونږ په خپل وطن کښې د پردو پشان اوسېږو
لا خو به یو کېږو ګني خدائے ګو چې ورکېږو

راځئ چې سره کښېنو پښتنو خبره یوه کړو
راځئ چې سره کښېنو لېونو خبره یوه کړو
راځئ چې د نړۍ د افغانو خبره یوه کړو
راځئ چې مرکه شو په جرګو خبره یوه کړو
په څۀ د ګوډاګو د بل په لاسو کښې لوبېږو
لا خو به یو کېږو ګني خدائے ګو چې ورکېږو

اوس هم دا خپل ژوند د غلامۍ ازادولے شو
اوس هم خپل بائیللے ژوند په بېرته راګټلے شو
مونږ هم خپل تقدیر ته د پښتو ژبه ښائیلے شو
مونږ هم په حکمت د سپوږمۍ غېږ ته رسېدلے شو
خو
اول چې مینه مینه شو د یو بل نه ځارېږو
لا خو به یو کېږو ګني خدائے ګو چې ورکېږو

# د ټکر شهیدان

## اکمل لېونے

ورځ د ټکر د شهیدانو نمانځمه
نن ورته سور سلام کومه

دوي واقعي په دین اسلام مئین وو
په خپل وطن مئین په قام مئین وو
په پت پښتو په ننګ ونام مئین وو
زۀ د تاریخ تړون د دوي په نوم لیکمه
نن ورته سور سلام کومه

دوي په دې خپله خاوره ننګ کړے دے
انګرېز جابر سره ئې جنګ کړے دے
په هر مېدان کښې ئې غورځنګ کړے دے
دا به ئې وې مرګیه مۀ راځه درځمه
نن ورته سور سلام کومه

په دوي چې دغلته ګولۍ ورېدې
شېبې شېبې لکه ږلۍ ورېدې
دا د دښمن په بزدلۍ ورېدې
سینه ئې ډال ورته نیولې وه محکمه
نن ورته سور سلام کومه

یو خوا ته توپو مشینونو واله
بل خوا عوام تشو لاسونو واله
نران مضبوطو ایمانونو واله
شهیدان شو خو واپس لا نۀ ړل عالمه
نن ورته سور سلام کومه

دې د خدائي خدمتګارانو ډلې
د باچا خان د سپاهیانو ډلې
دې د سر تېرو بهادرانو ډلې
انګرېز لندن ته زغلولے دے په جمعه
نن ورته سور سلام کومه

په پښتونخوا کښې لر و بر شهیدان
د پښتور او هشنغر شهیدان
په ننګ غېرت مړۀ د ټکر شهیدان
د هېرېدلو نۀ دي یاد به ئې لرمه
نن ورته سور سلام کومه

د دوي جذبو او ولولو ته سلام
د دوي غېرت د دوي پښتو ته سلام
د دوي عظیمو قربانو ته سلام
د عقیدت ګلان په څلو ئې شیندمه
نن ورته سور سلام کومه

الله دې خېر کړي پښتانۀ ورکېږي
مرګ خو لا څۀ په ژوندانۀ ورکېږي
تېر خو مو هېر شو اوس دا شتۀ ورکېږي
د دوي پرې هېڅ نۀ ولې زۀ د غمه مرمه
نن ورته سور سلام کومه

اے د اکمل خوږو ملګرو پاڅئ!
د انقلاب د اور بڅرو پاڅئ!
خوبونه پرېږدئ زورورو پاڅئ!
ټول راپسې شئ زۀ به مخکښې درنه مرمه
نن ورته سور سلام کومه